ژباړه: رحمت آریا
لیکوال: بروس ریچاردسن

فبروري ۱۰/ ۲۰۱۱

د سیاسي خوا بدۍ لېندۍ

په تونس ، اردن، یمن، مصر، عراق، افغانستان، فلسطین او.... کې د سیاسي خوا بدیو د لېندۍ کړۍ مخ په پراخېدو ده. ولې؟ ځواب سپین او روڼ دی: اقتصادي نابرابري، د بېکارۍ لوړه کچه، د کارګرانو له حقونو ناوړه ګټه اخېستنه، بې شمېره او ناپایه وسلې، بهرنی نېواک، مذهبي - توکمېزه بېلتونپالنه، د لوېدېزې نړۍ د منفي څار او واک له امله د نورو سیستمونو شنډېدل، د امریکایي اناتانو/محتکرینو له پلوه په لوی لاس د بېو لوړېدل؛ « د غنمو د اوسنیو سوداګریزو تړونونو د ۷۴ سلنې د څار او واک ولکه د لوېدېزو پانګوالو بنسټونو په لاس کې ده د بېلګې په توګه ګولډمن سَکس Goldman Sachs» ؛ د اناتانو ناوړه ګټه اخېستنه دومره پراخه او لوړه شوې لکه چې د خلکو سترګې له ګاټې څخه وباسي د بېلګې په توګه : د [څوارلس نیمو کیلوګرامو / امریکایي وزن bushel –ژ] غمنو بېه له دوه وو ډالرو څخه پېنځه وېشتو ډالرو ته لوړه شوې ده. ترخه رښتیا دا ده چې د هر مصري د ورځنۍ ژوند پاېښت یوازې په ورځ کې په دوه وو ډالرو پورې تړلی دی له بلې خوا د بېو لوړوالي د مصریانو پر ورځنۍ ژوند ژوره اغېزه شېندلې ده. د سیاسي برابرۍ نشتوالی یو بل لامل دی چې د وګړو د خوځښت انقلابي څېې بې د ولسي وګړو په منځ کې راپارولې دي، دغو څېو داسې نا آرامۍ رامنځته کړې چې اوس بې ټوله اسلامي نړۍ له ستري لالهاندۍ او ګنګستابه سره مخامخ کړې ده.

سیاسي او مذهبي بېلتونپالنه د اقتصادي زندۍ/اختناق په چوپړ کې

مصري پېښې نن سبا د رسنېو د پرېړو سرلېکونو له لارې د نړۍ له هرې بلې پېښې برلاسې دي. د پېښو د شننې په لړ کې داسې وېرې او اندېښنې هم راڅرګندېږي چې ګڼې د مصریانو د پاڅون او د اوسنۍ سیاسي نا آرامۍ مخه ښایي یوې ناسالمې خوا ته ودرومي، د بنسټېزو رسنېو کرښې او څرګندې سیاسي دولتي کړۍ په تکرار دا سکالو/ موضوع شاربي چې « د اسلامپالو ویرې ته مو غوږونه بوخ اوسه». یا په څرګندو ټکیو د « اخوان المسلمین» له وېرې څخه خبر اوسئ. د لمر په شان څرګند او د پوهېدا وړ واقعیت دا دی چې اخوان المسلمین له ډېرو پخوا وختونو را په دېخوا د وحشت او تاوتریخوالي له زیږوني څخه ډډه کړې ده. په امریکا کې د خام سیاست د جوړوونکو یوه تر ټولو ستره تېروتنه به دا وي چې کېدای شي د اخوان المسلین له حالت څخه په یوې چلوتې، ګټه پورته کړي او د هغوی د سوله پالو ویناوو او شعارونو له قانونیت څخه په سترګو پټولو په اسلامي نړۍ کې د مصر او مصري اسلامپالو پر وړاندې د ځان په ګټه او د هغوی د بنسټپالنې د ډډو په اړه به ډېرې توري باتې وولي. تر هغه ځایه چې موږ لېدلي په ځېڅېانده مصر او د عربي هېوادونو په نورو پلازمېنو کې اخوان المسلین ځان بې خطره څرګند کړی دی. اخوان المسلمین وخت په لاس کې لري، هغوی په څو څو ځلو د تیرو کلونو په اوږدو کې په مصر او نورو ځایونو کې په بې شمېرو قانوني ټاکنو کې د سولې او نرمی په چاپېریال کې برخه اخېستې ده. خو داسې کړۍ هم شته چې دا ډول سیاسي بدلونونو یا اله ګولو ته له بلې کړکۍ ګوري او د نړېوال اسلامي خلافت د جوړېدلو په لاره کې بې یو بدمرغه زیری بولي. ددغه غیر منطقي (فاکس نیوز) درېز د نامعقوله شپول په ګرد چاپېر کې دوې ډنډورچې ډلې لاس په لاس ولاړې دي چې یوه ډله بې د سهیونیستي رسنېو د ځالګېو پلوۍ ډله او بله بې د امریکا د نړېوال نېواک ملاتړې ډله ده ؛ دواړه ډلې د امریکا او اسرائیلو په استازیتوب مقالې خپروي، دا هغه ډنډورچې ډلې دي چې په رڼا ورځ د ښکېلاک او پانګوالی له تأریخه سترګې پټوي او یا په څرګندې بې باکۍ په دغو ځېڅېاندو سېمو کې د اقتصادي هژمونۍ نغارۍ ډمبوي. د امریکا دولت، د نړۍ په هر ګوټ کې د آزادو ټاکنو له لارې د یوه غوره شوي دولت په پرتله داسې یو اتوکرات دولت غوره بولي چې امریکا ته په آسانه د پېرودلو وړ وي .... امریکا به هسې دولت څه کړي چې د آزادو ټاکنو له لارې رامنځته شوی وي او په منځ کې بې داسې نوماندان وي چې نه غواړي د امریکا د لاسپوڅو په څېر د امریکا په چوپړ کې راپریوزي. د امریکا رښتونی میرځمن هر هغه بهرنی مشر دی چې د خپل هېواد د سرچېنو د د واګو د څار او ولکې د راخپلولو، د بشري حقونو د وَدې او د خپل هېواد د وګړو تر منځ د ملي پانګې د برابرۍ وېشنې هڅې کوي.

سیاسي او اقتصادي برلاسي

د جیورج ټاون د پوهنتون پوهاند [ډېرک لیبرتDerek Leebaer] غواړي د دا ډول پالیسیو د جړېدو د خړوبېدلو ډډې راوسپړي او روښانه کړي چې ولې د هغوی اغیزې ناوړه او له تاوانه ډکې دي، په دې اړوند نوموړي د [کوډو،لاس او پښې پرېکولو "Magic and Mayhem",] تر نامه لاندې یو کتاب لیکلی دی. « ځېرک او د سهې قضاوت لرونکو خلکو ته تل د شعارونو، د متبادلو نفساني غوښتنو، په اړوندو دندو کې د بریا او پرمختګ د ژمنو، د شخصي شتمنۍ د پراخېدا او د غوړې مړۍ، ښکاري لومې اېښودل کېږي، هغوی یا هڅول کېږي او یا اړ اېستل کېږي چې په خپل فکري تمرکز، ورسپارل شویو دندو او معقولو

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

موخو کې بېره وکړي.» پوهاند لېبرت وړاندې وايي : د جان ايف کېنېډي له لوړې را وروسته، لسېزې لسېزې کېږي چې د واشنګټن مخکښه ټګان او چلیګر د بهرني سیاست نوموتي کارپوهان دي. سره له دې چې تش په نامه [Wiz-Kids] او یا [Dream Teams] د امریکا پښه د عام وژنې د وینو په حمام کې راښکېل کړه او یو په بل پسې د ناکامۍ له ګړنګه لاندې راوغورځېدل، بیا هم سیاستوال، د شرکتي ګټو ملاتړوال او په بنسټېزو رسنیو کې د هغوی غوړه مالان لا تراوسه د « Best and Brightest»[1] افساني ته په رکوع کېږي. د پخوانیو دولتونو کارپوهانو ته د سلګونو زرو او ان د میلیونونو ډالرو ورکړه غیرعادي نه ده. د بېلګې په توګه د ګټه زېږوونکو شرکتونو د ریاستونو د پوستونو ورکړه ، په راډیو او تلویزیون کې راڅرګندېدنه، د کتابونو د خرڅلاو وړیا او له پرتم ډک سفرونه، دولتي جېره، په مخکښو له پرستیژ ډکو پوهنتونونو کې د کورونو ورکړه، او د سیاست جوړولو په هملاسو بنسټونو کې د ځای ورکړه په دې ډله کې راځي او هغو کسانو ته ورکول کېږي چې پخوا یې د دولت په ځواکمنو پوړیو کې کار کړی، دوی هغه کسان دي چې نړۍ یې د اقتصادي کړاو او بشري غمیزې، انفرادي مرییتوب، ملي او سیاسي ناآرامۍ په خونړي ډنډ کې لمبولي ده.

یوازینی ټکی چې څرګند دی دا دی چې ستره لوبه هېڅکله پای ته نه ده رسېدلې، دا لوبه تل د یوې اوږدمهالې جګړې یوه برخه ده، دا هغه لړۍ ده چې پرېنسټ یې د نړیواکۍ د مانۍ خښتې اېښودل کېږي، یوازې نوم یې بدل شوی دی. پرون مو دا جګړه، د سړې جګړې په نامه یادوله، وړمه ورځ مو ستره لوبه بلله او نن یې د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه بولو. ښایي سبا یې د درېمې نړېوالې جګړې په چوکاټ کې ونوموو.

سره له دې چې مصري ولس ته په ځاني ګټو مینو لوېدېزو سرچېنو د لېوالتیا او پروپاګندونو لومې اېښې دي مګر بیا هم د ولس ډېرې برخه خپله مخه ځکه اخوان المسلمین ته اړولې چې هغوی د سیاسي معمارانو، د بشري او ټولنېزو سیاستونو او پروګرامونو جوړوونکي بولي، دا هغه ولس دی چې د امریکا تر ملاتړ لاندې د هیواد واګې یې یوه دیکتاتور ته ورکړل شوي او وګړي یې د بېکارۍ، د پوهنې د بنسټونو د لړوالي، ناخوښۍ او بېوزلۍ له کړاوونو ربړېږي. دا هغه تیرغمال دیکتاتور دی چې د پانګې او شتمنۍ جرړه یې د امریکا له کلنۍ درې نیم بیلون ډالري مرستې څخه خړوبېږي، هغه د خپل ولس بنسټیز مؤکلین په پرله پسې ډول په ټګۍ او برګۍ بې لارې کړې دي، له بلې خوا د خپلو امریکایي بادارانو په لارښوونې یې د شکمنو ترهګرو د فوق العاده وهلو، ټکولو، ځورولو او کړولو ټټر وهلی دی. له حسني مبارک څخه د ولس د ملي کرکې یو بل ستر لامل دا دی چې په بې شرمۍ یې ځان د فلسطین د بې هېواده او د کلابندۍ په کړۍ کې د راګیر ولس د ګټو پر ضد د اپارتاید پر ستني ولاړ د اسرائیلو له دولت سره ملګری او غاړه غړۍ کړی دی.

تپل شوی سیاست، د خوابدۍ د کړۍ بنسټېزه جرړه

په دې وروستیو کې د رونالد ریګن سلاکار او د ملي امنیت پخواني مشر ویلي : « په ټول بشري تأریخ کې بشریت د لومړي ځل لپاره له سیاسي اړخه فعال ، له سیاسي اړخه هوښیار او په سیاسي فعل او انفعال کې په هڅانده ډول راښکېل شوی دی.... د نړېوالو سیاسي بدلونونو لپاره د فعالو خوځښتونو پایلو په بشریت کې د فردي پرتم د هڅو، کلتوري درنښت او اقتصادي امکاناتو توپاني څپې په داسې یوې نړۍ کې را پارولې دي چې پر ټپې مخ یې لا تراوسه د پېړیو پېړیو د اوږدمهالې پردې ښکېلاک او یاهم د پانګوالۍ د برلاسۍ د منګولو د څپېړو د کړس اغیزې له ورایه ښکاري.

د بشري پرتم نړېواله هیله او لېوالتیا په خپله د ننګونو هغه منځتګی دی چې بشریت ته د نړېوالې بېدارۍ له نښرغاندې /پدیدې څخه په میراث پاتې دی. دغه بیداري له ټولنېز اړخه خورا پراخه ده خو له سیاسي اړخه بنسټپاله کېږي. نن سبا تقریباً ټول بشریت راډیو او ټلویزیون ته لاسرسی لري، او نړېوالې ځالګۍ/انترنت داسې نړېوالې ټولنې رامنځته کړي دي چې ګډ ادراک او ګډې رخې سخې لري او کېدای شي د سیاسي عوام غولوونکو/ دیماګوژي او یا د مذهبي مینه والو له پلوه ناڅاپه راوپارول شي او یاپې لارښوونه وشي.

د همدغو وسایلو انرژۍ او ځواک د خپلواکو هېوادونو کرښې ونړولې او نه یوازې د نړۍ اوسنیو دولتونو ته بلکه د اوسنۍ نړۍ د مراتبو سلسلې ته یې ګواښ رامنځته کړی او اوسمهال د همدې انرژۍ په سرکې امریکا د یوه زبرځواک په توګه واک چلوي.» وګورئ : (Zbignew Brezezinski, ‘The Global Political Awakening’, NYT, 12/16/08).

[1] : Best and Brightest : د ویتنام د جګړې په اړه د ژورنالیست David Halberstam شننه ده. دا کتاب د امریکا د بهرني سیاست د هغو پوهانو د کړیو پر شننو یوه کره کتنه ده چې تر جان ایف کېنېډي راتاو وي او هم د دغو سیاستونو پایلې را سپړي [ژ]

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نن سبا په منځني ختېز، نېږدې ختېز او سويلي آسيا کې توپاني څپې لا هماغسې د پورته کېدو په حال کې دي. د پېړيو پېړيو په اوږدو کې لوټمارو لښکرو، يرغلونو، نېواک او لوټماريو دغه هېوادونه درې وړې کړې دي، دا د نړۍ د غښتلو هېوادونواقتصادي او پوځي ستراتيژي وه چې د ولسي وګړو د شمېرې په راتيټولو او د يوې کوشنۍ برخې په پرېښودلو هغوی له جګړو مخکې حالت ته راټېټ کړي. له نولسمې پېړۍ را وروسته افغانستان د بريتانيا، شوروي او اوس د امريکا د ستروا کيو د لېونتوب، د سياستوالو د مرستې تر پوښښ لاندې د لوټماريو، د بهرني کنترول، نېواک او د ټولوژنې د چپاو په لمبو کې کړېږي. دلته هر نېواکګر راغلی او هڅه يې کړې چې د مستقلې او خپلواکې اداري، له انارشۍ او اتوکراسۍ څخه د خلاصون، د خپلواکۍ د درنښت، د بياودانولو او د بې وزلۍ د له منځه وړلو، د منلو وړ ډيموکراسۍ د شتون، د ترهګرۍ او فاسدې اداري او د نېشه يې توکو د ترافيک د پای ته رسولو تر نامه لاندې د قانونيت د پلي کولو دغرې ووهي او په دې لاره کې د خپلې سرښندنې تنده ماته کړي. په خواشينۍ چې د افغانستان د تأريخ افسانه اوس تقريباً په ټول منځني او لېرې ختېزاو په منځنۍ او سويلي آسيا کې تکرار شوی ده.

آزادې ښښونکي ، د امريکا د متحده ايالاتو د ملي امنيت بې خرته لاپيان، افغانستان ته په منځتشو شعارونو، د درغلنو هېلو او ژمنو په ورکړو راغلي او هغه يې د ډيموکراتيکو ايډيالونو او پرتمينو مغرورو رسمي اعلاميو په تاج کې ټومبلي دي. دوی ددې پر ځای چې د ترهګرۍ جرړې وچې کړي، دولتي فساد پای ته ورسوي، څرګند فقر، سؤ تغذي، طبي سؤ معالجه، د بېيکارۍ ټېټ ترينه کچه او د اپيمو قاچاق له منځه يوسي برعکس ددې هېواد وګړي يې د سره تناره په لمبو کې کړولي دي، ځمکه يې په زهرو ور ککړه کړې، بې پېلوټه الوتکې يې پر سرونو را خوشې کړې چې وچ او لانده دواړه په ګډه سوځوي، د استوګنې ځايونه په دومره لوړه پيمانه او شمېره ورانوي چې څوک به يې انګېرنه ونه شي کړای، لاسپوڅې دولت يې کښېنولی، بې شمېره خوشه يې بمبونه او ځمکني ماينونه يې هرې خواته شېندلي، هره ورځ او هره شېبه ددغه ځورېدلي ولس پر سرونو داسې وسلې وروَي چې د نړېوال قانون تر سيوري لاندې منع بلل شوي دي. دوی ته هېڅ توپير نه کوي چې څوک وژل کېږي، ..... ماشومان، بوډاګان، څاروي او يا هر ډول نور ديموګرافيک توکي ټول هغه بلهاريان دي چې خپل ځانونه په دغه اور کې له لاسه ورکوي. دوی د ډيموکراسۍ او خپلواکۍ ليوالو وګړو ته هغه له يوې مخې وژونکې دې چې د ډيموکراسۍ او آزادۍ د راوړونکو جامې يې په ځان کړي دي.

د عدل غوښتنې او د بشري ټولوژنې د پای، سوې کوکارې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې اورېدل کېږي مګر د ګولډمن سَکس Goldman Sachs په څېر د اقتصادي اناتانو کورنۍ او د هغوی د اناتۍ د ملاتړ ونډه لوبوونکې په واشنګټن کې ناست بې خوځښته پوځپاله سياستوال د خپلو غوږونو په کاڼه اچولو دا کړيکې او کوکارې نه اوري. د افغانستان، مصر، تونس، يمن، سومالېې، اردن، غزې او عراق تجربو د نړۍ په هرګوټ کې په نه شرحه کېدونکې انداز داسې انګازې خپرې کړې چې څوک يې انګيرنه نه شي کولای.

پای

بروس ريچاردسن

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ